﴿ ۱۰ ﴾

# د سیستان تاریخونه او احیاء الملوک

سیستان زموږ د وطن مهمه او خورا آباده او مشهوره سیمه وه دا ځای په اوستا کښې له دې جهته هئتومنت نومیدی چې دهلمند د رود پخوانی نوم دغه وُ د داریوش په زړو نوشتو کښې ئې نوم زرنکه دی چې د زرنګ او معرب زرنج نومونه هم له دې قدیمي رېښې څخه دي او بیا چې ددوهم مېلادي قرن په پای کښې د "سکا" پوونده قوم دلته راغی او زرنګ ئې ونیوی نو ددوي په نامه سکستان ویلل سو، چې سجیستان او سیستان ئې وروستني شکلونه دي.

د سیستان خورا پخوانی وقایع د اوستا او نورو پهلو ي کتابو څخه داسي ښکاري چې دا مځکه د پخوانو اریایي پهلوانانو او شاهانو د پرورښت ځای وُ او د وندیداد په قول زردشت همدلته دکشتاسپ دربار ته پناه راوړه او خپل دین ئې له دې ځایه خپور کی او پسله دې هم ډېر نومیالي او پهلوانان په دغه مځکه کښې تېر سویدي چې درستم او زال کیسې تر اوسه لاهم مشهوري دي.

د اسلامي دورې دلومړی پیړی په اوله برخه کښې چې سیستان فتح سو نو هلته لکه قدیم کلتور چې موجود وُ دغسې نوی اسلامي فرهنګ هم ورته راغی او د چنګېزیانو تر حملو پوري پوره شپږ قرنه



زرنج د دې سیمې خورا لوی او مدني او ښکلی ښار و او دخراسان دوهم اسلامي آزاد دولت دلته د یعقوب لیث صفاري په همت تشکیل سو اوډېر سیاسي او حربي او دپوهې رجال دلته پیدا سول.

د سیستان نوم عربو په سجیستان معرب کی او ددې سیمې معروف ښارونه : زرنج، بُست، فراه، نه، طاق، دزق، اوق، خاش، داور او نور وو، په دغه سیمه کښې د اسلامي دورې خراساني فرهنګ وروزل سو، او دیعقوب لیث له درباره لومړی پلا " دری ادب" هم نشوونماوکړه او دزابل د رتبېلانو پخوانی پادشاهی هم په دغه وخت کښې ورانه سوه، او یعقوب ټول زابلستان او کابل تر ګردیزه ونیول، اودهندوکش شمالي سیمې ئې تر بلخه پوري له خپل پایتخت زرنج سره ونښلولې.

د سیستان د تاریخ او رجالو په پېژندنه کښې په ډېر کتابونه لیکل سوي وي خو هغه کتابونه چې موږ ته معلوم دي دادی :

۱. ابو عبدالله چې د احادیثو یو ثقه راوي وُ، د سیستان تاریخ ئې په عربي لیکلی ... حي غالباً د سیستان د محدثینو نومونه او احوال پکښې وه، دا کتاب اوس ورك دی. مګر تر ۱۰۲۷ هـ کاله پوري ئې لا خطي نسخه موجوده وه.

۲. ابو محمد سیستاني د شاه قطب الدین علي په وختو کښې هغه ذکر سوي عربي تاریخ سیستان په دری ژبه ترجمه کړي وُ دا کتاب هم اوس ورك دی.

۳. تاریخ سیستان چې مؤلف ئې امیر محمد مبارز د صفاري کورنی له پاچهانو څخه وُ او خپل کتاب ئې د ۸۸۰ هـ تر حدودو پوري د سیستان په تاریخ کښې په خورا تفصیل لیکلی دی. داکتاب هم اوس نسته مګر تر ۱۰۲۷ هـ پوري ئې لا نسخه وه.

۴. تاريخ سيستان د محموديوسف اصفهاني تاليف. چې اوس نسته مگر تر ۱۰۲۷ ه پورې لا هم و، او دليکلو وخت ئې د ۸۰۰ ه کال په شا وخوا کښې تخمين کيږي.

۵. د مولانا شمس الدين محمد موالي تاريخ سيستان چې اوس ورك دی.

۶. د مرحوم ملك الشعراء بهار چاپ کړی سيستان چې مؤلف ئې نامعلوم سړی دی، داکتاب په ۱۳۱۴ ش کال په تهران کښې ديوې خطي نسخې څخه د هغه مرحوم په خورا عالمانه او انتقادي حاشيه چاپ سو، چې د درى ژبې بهترين کتاب دی او بله نسخه ئې هم تر اوسه چاته نه ده معلومه

د سيستان ملکان د يعقوب ليث صفاري او ۲۵۰ هـ کال را پدېخوا نژدې اته سوه کاله په سيستان کښې پر خپلې موروثي ملکۍ باندې پاته وو، مگر د استقلال دوره هغه وخت ختمه سوه چې سلطان محمود په (۳۹۳ ه) خلف بن احمد د سيستان عالم او دانشمند پاچا د طاق په حصار کښې کلابند او جوزجان ته ئې فرار کی، دا هغه لوی او پوه پادشاه و، چې ډيرو شاعرانو دده ستاينه کړې او په سل ټوکه کښې ئې تفسير پر قرآن شريف باندې ليکلی و او بديع الزمان همداني چې د هرات اوسېدونکی د عربي مشهور ليکوال او شاعر وو ددې پادشاه په ستاينه کښې وايي :

قصدت السيد الملك المـويد
وخدالمـــكرمات به مورد
بارض تنبت الامـــال فيها
لان سحابها خلف بن احمد



يعني " زه دهغه لوی بادار دربار ته ولاړم چې دده په لاس د بخښنو مخ گلرنگه سويدی هغه مځکه د خلکو هيلې سمسوروی، ځکه چې دخلف بن احمد د کرم اوريځ تل پر اوري."

تر خلف وروسته د سيستان پاچهي په همدغه کورنۍ کښې پاته وه مگر دوي تل د غزني او غور او هرات دشاهانو تر اداري لاندې د افغانستان په لوي وحدت کښې ژوند کاوه که څه هم د سيستان ودان ښارونه د چنگيز اوتيمور په تاړاکونو کښې وران سوي وو، مگر دې کورنۍ موروثي ثقافت او حکمراني درلوده، څو چې په ۹۷۸ هـ کال ملك شاه حسين د ملك غياث الدين زوي هم په دغه خاندان کې پيدا سو، دا سړی عالم، مؤرخ، د ذوق خاوند، گرځندوی، سياست مدار او جنگي ملك و، چې پخپل عمر کښې ئې پنځلس سفره کړي اوټول خراسان ئې له کندهاره تر بلخه او مروه او نشاپور او هراته پورې ليدلی دی.

شاه حسين د تاريخ دغه لوړ ياد سوي کتابونه درلودل او نور ډير د تاريخ کتابونه ئې لوستلي وو، نو ده په ۱۰۲۸ ه کال يو کتاب د احياء الملوك په نامه په فراه کښې وکيښ چې يوه مقدمه او درې فصله او يوه خاتمه لري، او په دې کتاب کښې ئې د سيستان تاريخي اوضاع په تفصيل سره تر خپله وخته ليکلي دی. او دکتاب خاتمه هم دده مشاهدات او سترگو ليدلی واقعي دي.

شاه حسين د خپل عمر پنځلس کاله او نه مياشتي په سفرکښې تيري کړې، او ۷۷۵۰ فرسنگه سفر ئې کړي و، له سنده تر عربستانه پورې گرځېدلی او حج ته هم دشيراز او بصرې او نجد له لارې تللی و، په هغو وختو کښې سيستان له کندهاره سره اداري ارتباط درلود. نو ځکه دی

په ۱۰۰۴، ۱۰۰۶، ۱۰۰۷، ۱۰۰۸ او بيا هم ديرلس مياشتي په کندهار کښې اوسېدلی و.

ملك شاه حسين سيستاني نور تاليفونه هم لري يو کتاب ئې دمهرو وفا په نامه په ۱۰۱۳ هـ د شيخ فيضي دنل ودمن په ډول نظم کړي دی. بل کتاب ئې تحفه الحرمين دی چې په ۱۰۱۷ هـ ئې دخپل حج د مسافرت واقعې ليکلي دي. دی يو تذکره شعراء هم دخيرالبيان په نامه لري، چې تاليف ئې په ۱۰۳۶ هـ دی.

د شاه حسين تر ټولو مغتنم کتاب دغه احياء الملوك دی چې د سيستان تاريخ بيانوي او له دې کتابه څخه فقط يوه نسخه دلندن په موزيم کښې سته، چې متن ئې له حاشيو پايخوړو او فهرستو سره په ۱۳۴۴ ش کال د دکتر منوچهر ستوده په همت په ۶۱۸ مخه کښې چاپ سويدی.

داکتاب له دې پلوه دافغانستان په تاريخ کښې مهم ښکاري چې شاه حسين خو اول له هغو کتابو څخه ځيني مطالب را نقل کړيدي چې اصلي کتابونه ئې اوس ورك دی او نسته، نو ځکه دغسې مطلبونه ډير ارزښت لري، او ددې کتاب قيمت ورزياتوي.

دوهم دمؤلف خپل مشاهدات هم دوني ډير اومفيد دي چې موږ ته دخلکو اجتماعي او روحي او فکري اوضاع هم راښئي دډيرو ملکانو، ميرانو، ميرزايانو، نقيبانو، يارانو، بادارانو، منشيانو، کتابدارانو، تيرگرانو، رئيسانو، سرخېلانو، ساداتو، حقه بازانو، خيال بازانو، شاهنامه خوانانو، شبگردانو، طاس بازانو، قصه خوانانو، کلانترانو، کشتي گيرانو، لوليانو، معرکه آرايانو، مستخدمينو، خدمت گذارانو نومونه اخلي او لوستونکی پوهيږي چې په هغو وختوکښې کوم اجتماعي طبقات زموږ



په جامه کښې موجود وو؟ مؤلف لکه د قلم او علم او دانش خاوند چې و، دغسې دجنگو پر ميدان هم درېدلی او يوغښتلی سپاهي و، دی په ښړو کښې د ځينو مشاهيرو نومونه اخلي چې هلته ئې ليدلی وو، د دربارو حال او سياست ښکاره کوي، دخلکو د ژوندانه اوضاع، پرېشاني، ناامني ، خونريزی بيانوي، او د افغانستان د تاريخ ليکلو لپاره بهترين منبع گڼل کيږي، خاص بيا په هغو ځايو کښې چې مؤلف پخپلو سترگو ليدلي احوال ليکي او دهرات د تېموريانو اوصفويانو او دهند دتېموريانو احوال په ټول افغانستان کي بيانوي.

دا کتاب ځيني ادبي او جغرافيايي فوايد هم لري ډېر ځايونه مؤلف پخپله وېني او نوم ئې اخلي، چې دغه مطالب په تاريخي جغرافيا کښې زموږ په کار راځي په تېره د سيستان، دهلمند د ناوې، د بُست او زميندار او کندهار او هرات او غور او د خراسان د نورو ځايو په يادولو کښې پر تاريخي مطالبو سربېره ځيني جغرافيايي فوايد هم پراته دي.

مؤلف د سيستان دملکانو بيان داسي کوي لکه يو سړی چې د خپل کور او خاندان حکايت کوي. دده تاريخ د منهاج سراج چاپ سوي تاريخ سيستان او حبيب السير او ځيني نورو تاريخونو متمم گڼل کيږي او له دغو آثارو څخه سړی د سيستان د صفاري کورنۍ اوايل او اواخر معلومولای سي. او مخصوصاً بيا دغه احياء الملوك موږ ته د سيستان د مدنيت او ودانۍ نقشه تر اوسنۍ خرابۍ دمخه راښئي.

د چنگيز او تېمور حملو ځينې ښارونه لکه : باميان، بغشور، تالقان، مرو بيخي له منځه وايستل او تراوسه ئې خرابې پرتې دي، مگر له دغه کتابه داسې ښکاري چې سيستان بيخي نه و وران سوی بلکه تر

زرم هجري کالـه لا هـم بعضاً مسـکون او ودان وُ او ددغــي کورنــی حکومت هلته وُ. د احياء الملوك د مؤلـف ملـك شـاه حسـين شـاعرانه شخصيت هم د يادولو وړ دی، په تحفه الحرمين کښي خپل دريـابي سـفر بيانوي او د بحر تصوير داسي کاږي :

دريانه که عالمي پر از موج
گاهي به خضيض گاه براوج

ژرفي که کرانه اش نبـــاشد
راهي که نشانه اش نبـــاشد
کشتي نه که دوزخي فسرده
يك تابوت و هـــــزار مرده

د کوتل هوشنگ تصوير داسي کوي :

کوهي ديدم به عرش همدوش
با طبع سخامنش هـــم آغوش
چون راي حکيم در بلـــــندي
چون طبـــع سقيم د رنژندي
با ماه وستاره را زگـــــــفته
نشنوده حديث وباز گـــــفته

د خير البيان له تذکرې څخه داسـي ښکـاري چـي ملـك شـاه حسين تر ۱۰۳۶ ه پوري لا ژوندی وُ، ورروسـته ئـې نـو دژونـد يـا مرگ تاريخ نه دی معلوم.(۱)

(۱) کابل د ۱۳۵۳ لمريز کال د سلواغي مياشت پوولسمه گڼه.